انجينر وکيل متين

جون ۱۵، ۲۰۰۵، منتيکا، کليفورنيا

# د شمــلو گل

## د ارواښاد کاکا محمد هاشم زماني په ياد

هـــــزاران گلــــونه گل پــــه نسيمونو د بهار شي
خو يو نيم ئــې د شملو يـــــا د ليلا د غاړې هار شي

تقاضـــا د طبيعـــــت ده مينان د ښـــــکلا ډېر دي
د بلبل مينه پـــه گـــل او د پتنگ پـــه سره انگار شي

د شبنم دانــې په دواړو يـــو شآن اوري نيمو شپو کې
سپلمۍ ورژېړي ډاگ کې گلاب زلفو ته سينگار شي

محبت ئــې له بشـــر سـره وو نغښتې پـــه وجود کې
افتخار پـــه (زمــــــاني) ځکه ځما د ټول ديار شي

تــه ډېـــر ښـــه وائــې ناصحه شـــم دې زار له تسلا نه
خـو والله کـــه زخمي زړه مي په ملهم باندې قرار شي

وچول د ستـــرگو نـــه ښـــائي متـــين عبدالوکيله !
خيردې جوړکه په گرېوان باندې داوښکو جويبار شي

هـــېرول د جانـــان نـــه ښائي متــين عبدالوکيله
کـــه و ختونه پــه کلـونو تېر په منځ کې بې شمار شي